مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۲/۱۳

# د تکفير تولنپوهنه

# (۲)

په دې کرښو کې د تکفير مسئله له فقهي پلوه نه، بلکې له ټولنپوهنيز و تاريخي پلوه تر پوښتنې لاندې راځي.

د دې کرښو موخه له تکفيري ډلو سره استدلال نه، بلکې د خلکو په ذهنونو او باورونو کې له دروغجن تکفير څخه د ويرې له منځه وړل دي.

تکفير هغه وخت په يوه خورا خطرناک او تباه کوونکي ټولنيزې ښکارندې بدليږي، چې بهرنيان، واکغوښتونکې ډلې، استخبارات او وګړي له هغې څخه د سياسي اهدافو، ګټو يا واکنيوني و واکساتنې لپاره د ابزارو او وسيلو په توګه کار اخلي.

تکفير په حقيقت کې د رواني جګړې تر ټولو اغېزناکه او ګواښمنه بڼه ده، چې ولسونه راپرځوي. فردي او ټوليزه اراده وژني او د انساني حقونو د غوښتنو ژمنه په کلکه ځپي.

يو وګړی که ډوډۍ خوري، که ساه راکاږي، که جامې اغوندي، که خپل نظر بيانوي، که څه زده کوي يا ګټه وټه کوي، نو لومړۍ وېره به يې دا وي، چې تکفيريان يې دغه کړنه په خپل سياسي، استخباراتي او ځواکپلوې ترازو کې څنګه تلي؟

انګريزانو په افغانستان کې له دغې وسلې څخه له ډېر پخوا ګټه اخيسته.

په افغانستان کې اصلي ستونزه همدا ده، چې د تکفير صلاحيت، نوښت او سرچينه تل انګريزي وه او خولې يا ټاپه‌ماران يې هيندي (روسته پاکستاني) او کله کله تش په نامه افغانان ول.

په دې اړه که غواړئ ډېر وپوهېږئ، نو د دغو پوښتنو په اړه فکر وکړئ:

۱ ــ په اکسفورډ کې ولې د نړۍ لومړنی فوټو شاپ د ملکه ثريا د بربنډو عکسونو په خپرولو راپيل شو؟

۲ ــ د اعليحضرت امان الله شاه غازي په وړاندې تکفيري روايات چېرته توليدېدل؟ ياغيانو ته چا د جمروډ او علي‌مسجد تر منځ نوې ټوپک، پيسې او کارتوس خښ کړي وو او دوی ته يې په خوله کې ورکړل، چې دا ورته ملايکو خښ کړي؟

۳ ــ په محمد داودخاني جمهوريت او بيا روسته په ۱۳۵۷ و تر نن پورې يوازې او يوازې د افغانانو ښوونځي ولې سيزل کيږي؟ له ښوونځي و پوهنځي څخه دومره تاريخي وېره ولې شته؟ ايا شته د دې ټولو جهادونو کوم متفکر مغز چې وواېي: ښوونځي يې ولې سيزل؟ چاورته ويل؟ د ښوونځيو ګناه څه وه؟

ولې هغوی، چې يو وخت ښوونځي سيزل، بل وخت يې د ښوونځيو د جوړولو دروغجنې نغارې ډنګولې او د پوهنې وزيران ول؟ هغه کافر ښوونځي څنګه مسلمان شول؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

۴ -ولې په ۱۳۷۰ کلونو کې عکس اخیستل او ویډیو جوړول سوچ کفر و او نن سپین اسلام ګڼل کیږي؟ یا هغه وخت دروغ ویل کېدل یا اوس دروغ ویل کیږي، هر یو یې چې دوی مني، هماغه دروغ بنسټ وټاکئ او د تکفیر سیاسي استخباراتي ماهیت وپېژنئ!

پریمانه اسناد لا اوس هم موندلای شئ، چې په انګریزي لابراتوارونو کې جوړو فتواګانو قیر سړک، برېښنا، تلویزیون، پاکې جامې او.... د تمدن نورې نښې کفر ګڼلې دي.

## پایله:

روښانګرو او د وېښتیا لارویانو ته بویه، چې ولس په هره وسیله چې وي د استخباراتي - سیاسي او واکغوښتونکي تکفیر په ماهیت او اصلیت وپوهوي او که نه وطن او ملت دواړه د منځنیو پېړیو په دوزخ کې د ابد لپاره ابره کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ